ما له ما څخه وروسته د ښځو په څېر بله داسې فتنه نه ده پريښې چې هغه دې نارينه و ته ډېره زيانمنه وي. (يعنې د نارينه و لپاره د ښځو له فتنې څخه بله زيانمنه فتنه نشته)

له اسامه بن زيد رضى الله عنهما څخه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: "ما له ما څخه وروسته د ښځو په څېر بله داسې فتنه نه ده پريښې چې هغه دې نارينه و ته ډېره زيانمنه وي. (يعنې د نارينه و لپاره د ښځو له فتنې څخه بله زيانمنه فتنه نشته)".

[صحيح دى] [متفق عليه دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې له هغه وروسته يې داسې فتنه او امتحان ندى پريښى چې د سړيو لپاره زيان رسوونکې وي لکه څومره چې ښځې دي، که چېرته يې له کورنۍ څخه وي، نو له شريعت څخه د سرغړونو له امله به د ده لپاره امتحان وي، او که تري پردۍ وي نو د اختلاط او خلوت او هغه فسادونو له امله چې لدې دواړو څخه رامنځته کيږي د ده لپاره فتنه او امتحان وي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5830